مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی ۲۰۲۵/۰۹/۲۸

# ژرنده‌ګړی

له هغه وخته راهیسي چي ما پېژانده، دی زوړ و. ژرنده ګړی بابا په ما ډېر ګران و. تل به یي سپیني جامي اغوستي او وړوکي پګړی تړله. ببره اوږده ږېره به یي چي نور نو یو تور ویښته هم پکي نه و پاته، د څروبي په شاني خوره وه. دا ږیره به تل د اوړو په ګرد سپیره او ګلالي ښکارېده.
په نورو سیمو کي دا دود و چي د غنمو خاوند به په ژرنده کي تم کېده او خپل غنم به یي په خپله خوښه اوړه کول؛ خو زموږ د کلي ژرنده داسي نه وه. هلته به همدا چي بوجی به واوښتي، کلیوال به یوازي یوه پوښتنه وکوله:
ـ بابا، کله راشم؟
بابا به ځواب ورکړ:
- بچیه ښنګه اوړه غواړي؟ ... نرم که زیږه؟
ښکاره خبره ده چي هرچا به د خپلي خوښي خبره ورته کوله. دا وخت به بابا خپلي سترګي تنګي کړې، لږ به غلی شو، ته به وایي چي د ژرندي د پلونو له اواز سره خوښه کوي او بیا به یي وویل:
ـ دربیمه روځ راځه که خیر و!
ښه مي په یاد دي کله چي د آخر ځل د پاره ژرندي ته ورغلم او خپل اوړه مي څني بارول، ده راته وویل:
ـ ګوره بچیه، ته دوه کاله مسافر وې، اوس هغه پخواني وخت نه دی، پردي راغلي پردي!
بیا یي یو سوړ اسویلی ویست او وې ویل:
ـ بچیه، غزا مي ډېره خوښېږي. غزا د نارینه و او جنتیانو کار دی؛ خو اوس زوړ شوی یم او خپل دا ارمان په خپلو وینو نه شم پوره کولای.
ما اورېدلي و چي بابا بیا هم کار ایستلی دی. ده به د هغه کسانو غنم چي خپله د غازیانو په جنګي مرکزونو کي پراته وو او یا د وطن د ژغورني له پاره لا لهانده ګرزېدل او د اور او وینو لوبې ته یي دانګلي وو، بې نوبته اوړه کول او بوجی به یي پخپله کوروونو ته رسولي.
زه لا هم پــه دې سوچـــونو کي لاهو وم چي د بابا غږ مي تر غوږه شو:
بچیه، لږ ـلږ مي یادېږي، هغه وخت چي د انګریزانو په ضد بریالی غزا روانه وه، غازیان به په ټول وطن کي هسکه غاړه او جګه شمله ګرځېدل. زما همغسي غرور او نارینتوب خوښېږي؛ خو ارمان چي ځواني له لاسه وتلي ده!...
او ورو – ورو یي څو څاڅکیه اوښکي په ګریوانه راتویي شوې .
ـ ډیر زړه مي کېږي چي د دې ترخه او ستومانه ژوند وروستی شیبې مي، د شهادت په مرګ ښایسته شوې وای؛ خو زړښت مي د دې ارمان پوره کېدو ته نه پرېږدي.
بیا لږ موسکی شو او وې ویل:
ـ اوس مي خپل بچي راغوښتي دي. که خدای کول د هغه په مټو او وینو به ځان لږ هوسا غوندي کړم.
بابا په داسي حال کي چي له ما سره د اوړو شړمه بوجی باروله، وویل:
ـ هو بچیه... ما درته وویل چي اوس هغه پخواني وخت نه دی. کفارو زموږ ډېر ځوانان په شهادت رسولي او ډېر یتیمان راپاته دي. ما د دې یتیمانو د پاره هلته په ګوښه کي یوه کمکی بوجی ایښي ده. زه هر ماښام ژرنده جارو کوم او اوړه یي په همغه بوجی کي تولوم. څني کسان یو څو لپي خیراتي اوړه هم وراچوي... بچیه زه دا بوجی په نوبت د یتیمانو کورونو ته استوم.
زه د بابا په هدف پوه شوم او ورته ومي ویل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ـــ خدای دې خير په نصيب کړه، زما له اوږو څخه ښه ډېر هغه بوجی ته بيل کړه. يتيمان په موږ ډېر حق لري. زه دا اوره تا او هغوی ته ښنم... د دوی پلرونو خپل سرونه د وطن د پاره قربان کړي دي، اوره دې تر دوی ځار وي!
بابا وويل:
ـــ بچيه غلا او حرامه ډوډئ لويه گناه ده. که د چا پټي کي تېرېږي، د خپلو پښو خاوره هملته پاکوه. کېدای شي چي په هغه يو نسوار خاوره کي يو غنم شين شي. او وړی ترې جوړ شي، دا وړی به بيا زرغون شي او ډېره زمکه به شنه کړي؛ خو پام چي د دې غنمو يوه دانه به هم ستا نه وي او ټول به ستا د پاره حرام باله شي.
بابا په داسي حال کي چي زما بله بوجی ترله، وويل:
ـــ بچيه گوره چي وړوکي گناه څومره لويږي... د بل چا په حق کي نيکمرغي نشته.
بيا يې شا او خوا وکتل او ورو يې وويل:
ـــ په دې وخت کي چي مرگ ډېر نژدې دی، داسي کسان هم شته چي د خدای وېره يې هېره کړې او د غزا وسلي او پيسي د ځان د پاره خرڅوي ... د کونډو او يتيمانو حق خوري، نوې ودونه کوي، بنگلي جوړوي او....
ما ورته وويل:
ـــ بابا دا غلا ده، خدای به سزا ورکړي.
ده وويل:
ـــ دا ډېره لويه غلا ده. که له يوه سړي څخه غلا وکړې او پښيمانه شې؛ نو خلاص به يې کړې او عذر به ورته وکړې؛ خو د خلکو د مال لوټول ... توبه ... توبه ... هغه هم د غزا په وخت کي! ته زموږ ملك ته گوره، پخوا يې څه کول او اوس څه کوي؟ دوه روځي کېږي چي راغلي، سمدلاسه يې د بيوزلو د زمکو په اخستلو بريد کړی دی!
دا وخت زما د بوجيو د ترلو کار پای ته ورسېد. ژرنده گړي بابا ځان په خپله امسا نيغ کړ او لاس يې د خدای پامانی لپاره اوږد کړ.
***
زه او ملوك ورو – ورو د کلي د سوځېدلي ښوونځی په لور روان وو. اورېدلي مي و چي دوه شپې مخکي ډېره وسله راغلې او له ښوونځی څخه پاس په سمڅو کي ځای په ځای شوې ده. زه دوه درې روځې نه وم؛ ځکه ملوك په نويو کيسو خبر کړم:
ـــ ملك هم له درې کاله ځنډ څخه وروسته، له بهر څخه راغلی او ډېرې وسلي يې راوړې دي. پرون يې د غره په مرکز کي غونډه درلوده. په دې لنډو روځو کي به يو سل اويا کسان نورهم وسله اخلي. جبهه جوړېږي... نورو کليو ته هم وسلي رواني دي.
زه هوس واخستم، له پرديو سره جگړه څومره خوندوره ده؟
ملوك ته مي وويل:
ـــ ياره ملوکه! زموږ تر دې ژوند څخه مرگ ښه دی. خلك نيول کېږي، خلك وژل کېږي... په کليو د بمونو باران جوړ دی. پردي لاندي باندي گرځي او وطن خرڅ شوی دی!..
ملوك زما خبرې پرې کړې:
ـــ هو ... هو... يا به سر بايلو او يا به وطن گټو!
ما ورته وويل:
- ¬ ښه رښتيا هغه د ژرنده گړي بابا خبره څنگه شوه؟
ملوك اسويلی وويست، شا او خوا يې وکتل او وې ويل:
-¬ وروره په خړو اوبو کي هر څوك کبان نيسي. دا دومره غټه خبره نه ده؛ خو ملك يې چاغوي.
ما او ملوك ته له ژرنده گړي سره د ملك پخوانی لانجه پوره معلومه وه. ملوك ما ته په ځيره وکتل او وې ويل:
ملك په مرکز کي ويلي چي ژرنده گړی له سره مسلمان نه دی... د هغه زوی کافر دی او د دولت د پاره کار کوي!
ما ورته وويل:
ـــ د بابا زوی خو په ښار کي سبق وايي، کار نه کوي.
ملوك ځواب راکړ:
ـــ په مرکز کي گل محمد اکا ملك ته وويل چي د ژرنده گړي زوی، سلطان، ښه هلك دی او په خط کي يې ليکلي دي چي درې مياشتي وروسته راځي؛ خو ملك دا خبرې نه مني او هغه هلکی يې په تور لست کي نيولی دی!
ما ورته وويل:
- ملوکه! دا يې بد! د پلار خبره به نه مني، د بابا څه گناه ؟ نا اهله اولاد خو اول د مور او پلار دښمن وي!
ملوك وويل:
- نه وروره! دا خبرې نشته. ما اورېدلي دي چي د يو ورور د پاره به بل ورور وژل کېږي. د زوی کسات به له پلار څخه اخيستل کېږي. د چا چي د اکا زوی په ښار کي جوالي دی، دلته به يې کور الوزول کېږي او چا چي يو وخت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

په کوم دفتر کې قلم کش کړی دی. اوس به یې سینه په ماشیندار غلبیل کېږي... بس داسي یو کار روان دی چي زه پرې نه پوهېږم .
زه په سوچ کې لاهو وم چي که کیسه همداسي روانه وي، آخر به څه کېږي؟
بیا د ملوك خبرو راسم کړم:
_ په مرکز کي غفوري وویل چي له ښارونو څخه ډېر کسان کلیو ته راغلي او راروان دي. نور به هم راشي که چېرته موږ ورته غېږه پرانیزو او په خبره یې ښه وپوهوو. مګر ملك په ډاګه ورته وویلي چي په خلکو باندې د وېرې د خورولو او ستر نامه د ګټلو له پاره وهلو، ټکولو، وژلو او سیزلو ته اړتیا ده. که د هرچا له پاره یو عذر ومنو؛ نو وژنو به څوك؟ ... او چي څوك ونه وژنو، وسلي او پیسي نه راځي... داسي وېره باید خوره کړو چي زموږ د نامه په اورېدلو سره رنګونه تك سپین والوزي او زړونه ودرزېږي، ښځې بې وخته لنګي شي او ژبې په خولو کي ګنګي پاتي شي...
دا وخت زه او ملوك تر ښوونځي پورې رسېدلي وو. د ښوونځي له ودانۍ څخه اوس هم لوګي ختل. ها خوا درې څلور ماشومان د دې لوګیو ننداري ته لاس تر زني ناست وو.
***
د جمعي روځ وه. زه، ملوك، ښاګل او د کلي څو نور ځوانان د اوبو په څنډه لمر ته ناست وو. چا خپل نوي ټوپك پاکول او چا خپلي ګردنۍ له کارتوسو څخه ډکولي. ټول دوه – درې روځې وروسته غزا ته روان وو. د هېڅ چا په څېره کي د وېرې نښه نه لیدل کېده. د ژرندې د پلونو د ګرځېدو دروند اواز راتلو.
له مخامخ لور څخه یوتنکی ځوان راروان و.
ښه چي رانژدې شو، ټولو وپېژاند. د ژرنده ګري زوی ؤ. ټول ورته پاڅېدو او په روغبړ مو غېږې پرانستلي. ستړې مه شي لا نه وو خلاص شوي چي ناڅاپه په ژرنده کي څو ډزې وشوې. دوه – دریو هلکانو ها خوا وځغستل. ما ملوك ته وکتل، ملوك په داسي حال کي چي د ژرنده ګري زوی سلطان ته سترګي نیولي وې، په خپلو شونډو غاښونه کېکاږل او ټوپك یې له لاسه غوزار شو.
سلطان ټوپك پورته کړ. په ما سره غوندې خوله کېناسته او مخ ته مې دوه درې لپې اوبه واچولي. که ګورم چي د ویالي اوبه په وینو سرې دي !!
ما په داسي حال کي چي د اوبو په سر د وینو لارې څارلې، هلته مې د ملك د قهرېدلي څېرې مات- مات انځور تر سترګو کېده او داسي راته ښکارېده لکه له سترګو څخه یې چي د ماشینګنو خولې راوتلي وي.
نور هلکان هم د ژرندې په لور ولاړل . سلطان لا همدلته هك پك ځای په ځای ولاړ و. ما له هغه څخه مخ واړاوه. مخامخ د کلي لویه اواره لاره لرې وراندې په څو نریو کږلیچیونو لارو وېشل شوې وه او زما سترګي په هغو کي ورکي وې!

پای

۱۹۹۴/۳/۵

حیات آباد_ پېښور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځېر و لولئ